




## د مولانا داکتر محمد سعید « سعید افغانی » لیکنه

**د نشر نیټه : 18 اګست 2019 م**

# د بسیطه جهل علاج

یعني د هغې نا پوهی علاج کوم چې انسان په کې په خپل علم او پوهې هم معتقد نوي ! دا مرض د ناپوهی مرض دی ، چې په زده کړې سره محوه کیږي او د تحصیل په دوایی علاج کیدلی شي.

دا رنګ نا پوهی په ابتدا د عمر کې بده نده او هر سړی اول نه پوهیږي او بیا وروسته د سعیه او کوشش په اثر عالم او پوه شي .

هو : که سړی ابتدا پوه وي نو په ښوونځی ، مکتب او مدرسی ، تعلیم او تعلم ته څه حاجت پاتي شي ؟ نو معلومه شوه چې هر سړی اول عالم نوي ؛ لکن وروسته د تحصیل ځنی په یو څه پوه شي نو د ناپوهی مرض په ابتدآ د عمر کې قبیح نه دی ؛ په زده کړې سره یې علاج کیدلی شي . او د پوهانو د پاره په کار دی چې د ناپوهانو د پاره به همیش د علم صفت او جهل مذمت کوي او د جهل د اضرارو د پاره به امثال او شواهد او هغه ناکاری پیښی چې د جهل په اثر راځی ، خلکو ته بیانوي.

دا دی چې په دې لاندې ډول سره به زه هم یو څه د علم او پوهی په صفت او د جهل په مذمت کې د ګرانو لوستونکو په حضور تقدیم کړم :
« انسان باید فکر وکړي او په حال د انسان او د نورو حیواناتو کی عمیق شي چې دا څه وجه ده چه انسان د نورو حیواناتو ځنی ممتاز او په قبآ د « وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ » « سوره ۱۷ : الإسراء ـ ایه مبارکه ۷۰ » ملبس دی.

دا وخت به انسان ته داعقیده حاصله شي چه فضلیت د انسان ، په نورو حیواناتو باندې په علم سره دی ؛ او په علم او پوهي سره انسان د عزت او اکرام منزلت حاصل کړی دی.
له بلي خوا باید انسان د جاهل او ناپوه حقیقت ته متوجه شي کوم چه هغه د علم په صفت سره متجلی او ښایسته نه وي . نو دا وخت به دا ورته واضح شي چه جاهل په شمار د بې خولې حیواناتو کښې حسابیږی او د حیواناتو په شمار کښي دی.
همدا وجه ده چه جاهل او نا پوه کله چه د عقلاو، فضلاو او پوهانو مجلس ته حاضریږي او هغوی

په علمي مسائلو کښې بحث کوي او اجتماعي ، اخلاقي ، سياسي ، ادبي او مذهبي تحقيقات او توضيحات کوي ، هلته جاهل په يو عالم سکوت مبتلا او په زړه کښې ئې د غم غوبل وي .

هو : خبرې به نشي کولی او د بل په خبرو به نه پوهيږي ؛ او د جهالو او نا پوهانو مجلس به نوي چه د چټياتو او ناپړيتو په وينا کښې جاهل هم څه فعاليت ښکاره کړي ، نوځکه جاهل د پوهانو په مجلس کښې زيات خفه او ملول وي.

حقيقت دا دی چه دا رنګه نا پوهان چه خپل قيمتی وخت يي عبث کړی وي او د مکتب او د مدرسي ځنې يي استفاده نه وي کړی او هميش په لهوه او لعب کښې يي خوند اخستی او د حيات په مرموزه اسرارو نه وي خبر ؛ نو د حيواناتو ځنې هم متبر دی .
ځکه حيوانات خپل طبعي او خلقي قوت او طاقت کوم چه هغه د بل په واک او اختيار کښې دی ، د بل په ارادې په کار اچوي ؛ په خلاف د ناپوه انسان ځنې ناپوه انسان خو خپل هغه استعداد چه د علم او زده کړې د پاره آماده وو په کار وانچول او ده دا ونه کړه چې په زيار او زحمت سره د علم په صفت موصوف او د جامعي د پاره د کار غړی شوی وي.
نو ځکه نا پوه انسان د حيوان لايعقل ځنې متبردی؛ بلکه نا پوه انسان د جماداتو نه هم ښکته دی ځکه جمادات لکه تيږه ، لوټه او داسي نور غير نامی او نه لويدونکی اجسام په خپل طبعی استعداد سره د انسان په اختيار کښې دی او ناپوه انسان خو خپل اختيار د بل په اختيار ورکړی او خپل په خپله يي ، خپل موجوديت لکه د جماد په شاني کرځولی.

همداو چه ده چه خدای پاک فرمائی:
« أُوْلَـئِکَ کَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُوْلَـئِکَ هُمُ الْغَافِلُونَ » ( د اعراف سوره ، ۱۷۹ آيت ).

ارسطاطاليس ويلی که کوم ليدونکی « بينا » د يو نابينا لاس ونيسی او دواړه په ځاکي ولويږی ، نو په شقاوت او بدبختی کښې خو دواړه شريک شول ؛ لکن نا بينا د دی له امله چه عاجز وو او استعداد د ليدلو ئي نه در لوده معذور او مرحوم شميرلی شی او بينا ملامت او مقصر دی.

هو : ده ته خدای پاک سترګي ورکړي وی، عقل يي در لوده نو ځکه خپل عقل اوليدلو ته مقصر او ملامت دی.

يو عربی شاعر وايی :

ولم ار فی عيوب الناس عيباً ـ کنقص القادرين علی التمام

وائی زه نه وينم په عيبو د خلکو کښې داسي عيب په شانی لکه چه نقص او عيب د قادرينو دی په تمام والی د کار باندې .

هو: په رښتيا چه په اتفاق د صاحبانو د عقل او نقل هيڅ کوم فضيلت بې د علم نه حاصليږی. همدا وجه ده چه پاک الله خپل حبيب محمد مصطفی ﷺ ته فرمايی :
« قُلْ رَبِّ زِدْنِي عِلْمًا : سوره طه ، ايت ۱۱۴ » . وائی: ووايه چې ای مربی زما په علم کښې مي زياتوالی وکړی.
کله چه حضرت عايشه رضی الله تعالی عنها ، رسول ﷺ ځنې پوښتنه وکړه چه په څه شي سره فضليت د خلکو په خلکو سره پيدا کيږي.
حضرت محمد ﷺ ورته په ځواب کې وويلي : چه په عقل سره .

يو ورځې  حضرت ﷺ ؛ علی کرم الله وجهه ته فرمایل :

« یا علی اذا تقرب الناس الی خالقهم بانواع البر فتقرب بعقلک تسبقهم با لدرجات و لزلفی »
د ترجمې حاصل :
ای علی  کله چه د ستا او د نورو خلکو مسابقه راغله  په زیات  نږدې  والي او تقرب سره  دربار د خالق جل جلالله  ته  اوخلکو غوښتل چه ځان نږدې کړی په  اقسامو  د نیکیو سره، نو ته ځان نږدې کړه  په عقل سره،  نو پدې مسابقه کې  به  ته  په دوی باندې په ډیرو درجو او قُرب سره  په هغې باندې مخکښی  شې » .

په یو حدیث شریف کښې راغلی :  « الناس اما عالم او متعلم و الباقی همج »

خلک په  دوه قسم  دی  :  یو قسم عالم دی  او بل  متعلم  ؛ باقی نور خلک لکه  واړه  مچانو په شاني دي .
یو صحابی د آنحضرت محمد ﷺ څنې سوال وکړو چې  :  کوم عمل بهتر دی .

رسول ﷺ جواب  کې  ورته  وویلي  :  « علم» .  په  درې کرته  صحابی  همدا  سوال وکړو  او  رسول ﷺ  همدا ځواب وویلي.  اخر صحابی وویلي  :  چه زه  د  عمل  څنې  سوال  کوم  او  تاسي  په  علم  سره ځواب راکوی .
رسول الله ﷺ ورته وویلي  :  چي  لږ عمل سره  د  علم څنې  ادا بهتر دی د ډیر عمل څنې  چه  د جهل  او ناپوهی سره  وي.

***

سعیدافغاني

کابل ـ خیرخانه مینه
د  ۱۳۵۴هجري  شمسي  کال

ترتیب کوونکی : برهان الدین « سعیدی »



